# مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ». "څوک چې يو ځای کې ته راغی (تم شو) شو او بیا يې وويل: (أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ) زه د الله جل جلاله په بشپړو کلمو سره د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې هغه پیدا کړي دي) نو هېڅ شی به هغه ته زيان ونه رسوي تر څو يې چې نوموړی ځای پرېښی نه وي

له خوله بنت حکیم السلمية رضی الله عنها څخه روايت دی چې وييل يې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ». "څوک چې يو ځای کې ته راغی (تم شو) شو او بیا يې وويل: (أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ) زه د الله جل جلاله په بشپړو کلمو سره د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې هغه پیدا کړي دي) نو هېڅ شی به هغه ته زيان ونه رسوي تر څو يې چې نوموړی ځای پرېښی نه وي".

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د ګټور ملاتړ او پناه وړلو ځای لارښوونه کوي، هر هغه ګواښ چې انسان ته په يو ځای کې د استوګن کېدو پر مهال پېښيږي؛ هغه که په سفر کې وي، یا چکر او داسې نورو حالاتو کې، چې الله ته پناه یوسي او د فضل، برکت او ګټې له امله د هغه بشپړې کلمې د ځان ملاتړې وګرځوي؛ هغه کلمې چې له هر ډول نيمګړتيا او عيب څخه پاکې دي، د هر هغه مخلوق له شر څخه پرې ځان وژغوري چې شر ولري، (که دا کار وکړي) نو دی به په نوموړي استوګن ځاي کې تر هغه پورې د هر ضرري مخلوق له شر څخه په امن کې وي تر څو چې دی هلته اوسيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5932